# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستی نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۲۵ سلواغه ۱۴۰۱ هـ ش | ۲۳ رجب المرجب ۱۴۴۴ هـ ق | ۱۴ فبروری ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۲۷)


## د سترې محکمې د عالي شورا غونډه ترسره شوه

په (۱۴۴۴/۷/۱۰ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۱۳مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا له غړو څخه محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب، محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا دغه غونډه د قرانکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د غونډې په اجنډا کې د شاملو څلورو (۴) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصیلي خبرو وروسته د یادو موضوعاتو اړوند فیصلې صادرې شوې.

یاده ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.



## د سترې محکمې متحدالمآلونه

### د متحدالمآل ګڼه: ۳۹

### نېټه: ۱۴۴۴/۶/۱۲ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د هدایت مطابق د تیري اداري د محاکمو د قطعي او نهائي غیر تطبیق شده فیصلو د بیا څېړلو په موخه طرزالعمل ترتیب شوی وو چې د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائید وروسته د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق، د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر(۱۵) مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۲هـ ق په توسط یاد طرزالعمل ټولو محکمو ته استول شوی او په هغه کې یادونه شوې چې: د سابقه اداري هغه غیر تطبیق شده فیصلې چې ابتدائیه یې شوي وي د اسلامي امارت مرافعه محکمې ته دې وړاندې شي او که مرافعه یې شوي وي د اسلامي امارت مربوطه تمیز ته دې وړاندې شي...)، په همدې اساس د تیري اداري دوسیې د اسلامي امارت محاکمو ته استول شوې وې چې بیا وروسته د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د سترې محکمې محترم مقام ته شفاهي هدایت کړی وو چې د هغه مطابق، د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت په اساس د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۳۱) مورخ ۱۴۴۴/۴/۱۸هـ ق په توسط ټولو محکمو ته خبر ورکړل شو چې:(د تیرې اداري هغه دوسیې چې یوازې ابتدائیه یې شوي وي، یا یې ابتداییه او مرافعه دواړه شوي وي، یا هم ابتدائیه، مرافعه او تمیز درې سره شوي وي لیکن تطبیق شوي نه وي او محکوم علیه د تجدید نظر غوښتنه وکړي، یا محکوم له تطبیق وغواړي، په دې ټولو صورتونو کې دې دوسیه د یوه جانب د مراجعې په صورت کې په هر ولایت کې د استیناف محکمې د لارې ځانګړې محکمې (هیئت قضائي) ته واستول شي.)

اوس ځینې محاکم پوښتنه کوي چې د تیرې اداري هغه قطعي او نهائي غیر تطبیق شده فیصلې چې د اسلامي امارت په محاکمو کې یې اصولي جریان پیدا کړی هغه هم ځانګړې محکمې ته واستوو او که څنګه؟ په دې باره کې، موضوع د سترې محکمې د محترم مقام لخوا د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته د هدایت اخستلو په موخه وړاندې شوه، عالي مقام یې په اړه داسې هدایت وکړ:

((وکتل سو!

وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

وبعد: د تیرې اداري دوسیې چې د اسلامي امارت په محاکمو کې جریان ورکړل سوی وي او که جریان نه وي ورکړل سوی، ټولې دې ځانګړې محکمې ته واستول سي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحریر شوی هدایت د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې مطابق(د تیرې اداري هغه دوسیې چې یوازې ابتدائیه یې شوي وي، یا یې ابتداییه او مرافعه دواړه شوي وي، یا هم ابتدائیه، مرافعه او تمیز درې سره شوي وي لیکن تطبیق شوي نه وي) یادو دوسیو ته که د اسلامي امارت په محاکمو کې جریان ورکړل سوی وي او که جریان نه وي ورکړل سوی، ټولې دې د شرعي حل او فصل په موخه په هر ولایت کې د هغه ولایت د تیري اداري د دوسیو څېړلو ځانګړې محکمې ته واستول سي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۴۰

### نېټه: ۱۴۴۴/۷/۱ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان نمبر (۴) مورخ ۱۴۴۴/۳/۷هـ ق مصادف ۱۴۰۱/۷/۱۱هـ ش په اساس د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد مقرره منظوره شوې او د فرمان نمبر (۶۹۶) مورخ ۱۴۴۴/۳/۷هـ ق مصادف ۱۴۰۱/۷/۱۱هـ ش په اساس د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد د کمېسیون د دندو او واکونو لائحه ترتیب شوې چې په ذکر شوې مقرره او لائحه کې د امارتي(سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو د استرداد موضوعاتو د بررسۍ صلاحیت یاد کمېسیون ته ورکړل شوی دی او د خاصه مرعی په باره کې کوم هدایت نه دی شوی چې په همدې اساس مو موضوع د سترې محکمې محترم عالي مقام ته پیشنهاد کړه، عالي مقام یې په اړه د حکم مورخ ۱۴۴۴/۶/۲۹هـ ق په توسط داسې هدایت وکړ:

((۱ ـ د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام په یاد فرمان کې د امارتي(سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو د بررسۍ صلاحیت د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون ته ورکړل شوی دی د هغه مطابق دې یاد موضوعات نوموړي کمیسیون ته واستول شي.

۲ ـ کله چې د ځمکې موضوع محکمې ته راشي او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر(۲۴) مورخ ۱۴۴۴/۳/۱۰هـ ق مطابق تر اصولي کړنو وروسته دا ثابته شي چې مدعی بها امارتي(سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکه ده، دغه موضوعات دې هم یاد کمیسیون ته واستول شي.

۳ ـ محاکم دې یواځې د خاصه مرعی موضوعات واخلي او د محاکمو د لائحې د (۱۰۵) مادې مطابق دې د تعطیل حکم پر وکړي همدارنګه د محاکمو د عالي اداري د مکتوب نمبر(۳۱ج۳) مورخ ۱۴۴۰/۴/۳۰هـ ق د لسمي فقرې د دغه جزء(...د مرعی ګانو د تحفظ د پاره دې د محاکمو د لائحې ۱۰۶ ماده عملي سي.) مطابق دې د خاصه مرعی ګانو د تحفظ په باره کې اصولي اجراآت ترسره شي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي مقام پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

## د شریعت مأخذونه

### لومړۍ برخه:

### د شریعت مأخذونه څلور دي:

۱: کتاب الله (قرانکریم): د اسلامي شریعت د مهمو مأخذونو څخه دی او د اسلامي احکامو لومړۍ سرچینه ده.

۲: د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) سنت: د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) سنت حجت ګرځول د دین له ضروریاتو څخه دي، ځکه هر لفظ چې د رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) له خولې څخه راوتلی وي هغه په الهي وحې ولاړ دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي:

ژباړه: ((دغه [محمد صلی الله علیه وسلم] له خپل نفسي خواهش څخه خبرې نه کوي. دا [قرآن] خو یوه وحې ده چې پر هغه نازلیږي.)) [سورة النجم: ۳ـ۴]

اخذلیک: تتمة النظام، ۲۰ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

# گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## در جریان ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش در دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ حوزه اول شهر کابل ۹۰۷ دوسیه حل و فصل شده‌است

گزارش اجراآت ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش بخش‌های جزائی و حقوقی دواوین مربوطه محکمه ابتدائیه حوزه اول شهر کابل به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**۱. دیوان جزاء این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش به تعداد ۲٤۸ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۸ قضیه فیصله شده، ۱۷۳ قضیه توسط قرار قضائی و ۳۳ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش به تعداد ۲٦۹ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۸ قضیه فیصله شده، ۱۱٤ قضیه توسط قرارقضائی و ۹ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است که متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**۳. دیوان مدنی این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش به تعداد ۳۰۹ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۳۳۹ قضیه توسط قرار قضائی و ۱۵۵ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**٤. دیوان ترافیکی این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش به تعداد ۳۳ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ٦ قیضه فیصله شده، ۵۳ قضیه توسط قرار قضائی و ۹ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

## محاکم ولایت فاریاب در جریان دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۸۲) دوسیه، به تعداد (۳٤٦) وثایق نیز اجراء کرده‌است

اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت فاریاب از تاریخ ۱٤٤٤/۷/۱هـ ق الی ۱٤٤٤/۷/۱۵) هجری قمری به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش جزائی :**

در جریان دوهفته به تعداد(۷۰)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه توسط مکتوب اجراء شده، (۳۹) دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی، (۳۷) دوسیه ذریعهٔ فیصله اجراآت شده است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی :**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰٤)دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت کار بود.

از آن جمله (۱٤) دوسیه توسط مکتوب اجراء شده، ( ۷٤ ) دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی، (۱۱۳) دوسیه ذریعهٔ فیصله اجراآت شده است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**بخش وثایق:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳٤٦) وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت لغمان طی دوهفته علاوه بر حل و فصل ۱۱۸ دوسیه، به تعداد ۱٤٤ وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت لغمان از تاریخ ۱٤٤٤/۷/۱ هـ ق الی ۱٤٤٤/۷/۱۵ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۵٦)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۳۲) دوسیه توسط مکتوب، (۲۳) دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی و (۱۱) دوسیه ذریعهٔ فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه ها تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان دوهفته به تعداد(۳٦) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٦) دوسیه توسط مکتوب، (۲۹)دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی و (۱۷)دوسیه ذریعهٔ فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱٤٤) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده‌است.

## محاکم ولایت کندز طی ماه جدی علاوه بر حل و فصل (۵۵۰) دوسیه، به تعداد (۳۹۹) وثایق نیز اجراء کرده‌است

گزارش اجراآت برج جدی سال ۱٤۰۱ محاکم مربوط ریاست عمومی محکمهٔ استیناف کندز به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**بخش حقوقی:**

در جریان ماه جدی به تعداد (۳۹٦) جلد دوسیه وارد محاکم‌گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه ها تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۷۳) جلد دوسیه فیصله شده، به تعداد (۲٤۲) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده، به تعداد (۵۵) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده است و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**بخش جزائی:**

در جریان ماه جدی به تعداد (۱۹٤) جلد دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۹۳) جلد دوسیه فیصله شده، به تعداد (۷۸) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده، به تعداد (۹) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت غور محاکماتی دواوین استینافی، دیواوین ابتدائی و محاکم ولسوالی ها قرار دارد.

**بخش وثایق:**

در ماه جدی سال ۱٤۰۱ هـ ش در آمریت ثبت اسناد و وثایق و محاکم ولسوالی‌ها به تعداد (۳۹۹) قطعه وثایق مختلف النوع اعم از اقرارخط، وکالت خط، وصایت خط، ابراء خط، ضمانت خط و مثنی وثایق مختلف النوع برای مراجعین ترتیب و توزیع گردیده است.

## محاکم ولایت بلخ طی یک هفته علاوه بر حل و فصل (۱۹۳) دوسیه، (۲۱۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ از تاریخ ۱٤٤٤/٦/۲٦ هـ ق الی ۱٤٤٤/۷/۴هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۱۰۶)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۲) دوسیه توسط مکتوب، (۷۰) دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی و (۱۹) دوسیه ذریعهٔ فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه ها تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۴۸) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۴) دوسیه توسط مکتوب، (۴۴)دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی و (۲۲)دوسیه ذریعهٔ فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۴۴) دوسیه وارد دواوین مربوطه شده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷)دوسیه ذریعهٔ قرار قضائی و (۵)دوسیه ذریعهٔ فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۲۱۷) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان (شماره ۳۴۲ج۱، مؤرخ ۱۴۴۳/۷/۲٦ هـ ق) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله قیمت آن اخذ نگردیده‌است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په تېرو دوو اونیو کې د (۱۲۹) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۰۴) وثیقې هم اجراء کړې دي

په دې راپور کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې، وثایقو، د ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون ابتدائیه نظامي محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د دوو اونیو (له ۱۴۴۴/۶/۲۸ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۷/۱۱ هـ ق نېټې) حقوقي او جزائي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۷۹) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۱۵) دوسیې مکتوبي اجراء شوې، (۳۴) دوسیې قضائي قرار، (۳۳) دوسیې فیصله شوې دي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۵۸) دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۶)دوسیې مکتوبي اجراء شوې، (۸) دوسیې قضائي قرار، (۳۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز محاکمو په یاده موده کې (۱۰۴) بېلا، بېل وثایق اجراء کړي دي.

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان علاوه بر حل و فصل (۲۱۹) دوسیه، به تعداد (۱۲۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء شده‌است

توحید گزارش را پور دوسیه جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت پروان از تاریخ ۱٤٤٤/٦/۲۸هـ ق الی ۱٤٤٤/۷/۱۱ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۳۳) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت .

از جمله (۱۳) دوسیه طی مکتوب،(۹۰) دوسیه توسط قرار قضائی، (۲۳) دوسیه توسط فیصله اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۹) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از جمله (۲) دوسیه طی مکتوب، (٤۸) دوسیه توسط قرار قضایی، (٤۳) دوسیه توسط فیصلهٔ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

و همچنان در این مدت به تعداد (۱۲۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده‌است.

## محاکم ولایت فراه در جریان دو هفته علاوه بر حل وفصل ( ۱۵٤ ) دوسیه، (۱۴۱ ) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فراه از تاریخ ۲۸/ ۶ / ۱۴۴۴ هـ ق الی ۱۱/ ۷ /۱۴۴۴ شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری ومحاکم ابتدائیه ولسوالی ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۸) دوسیه حقوقی وارد محاکم ولایت فراه گردیده است؛ در حالیکه چند دوسیه قبلاً نیز موجود بود.

از آن جمله (۶) دوسیه طی مکتوب (۱۹) دوسیه توسط قرار قضائی و(۳۳)دوسیه توسط فیصله اجراآت گردیده است ومتباقی دوسیه ها تحت کار میباشد

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ۹۶) دوسیه وارد محاکم ولایت فراه گردیده است؛ در حالیکه چند دوسیه قبلاً نیز موجود بود.

از آن جمله (۶) دوسیه طی مکتوب، (۲۲) دوسیه توسط قرار قضائی، (۶۸)دوسیه توسط فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت بادغیس در جریان یک ماه علاوه بر حل و فصل ۱۹۸ دوسیه، به تعداد۴۷ وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

گزارش اجراآت قضائی محکمهٔ مرافعه ولایت بادغیس طی ماه جدی سال ۱٤۰۱ هـ ش به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش جزائی:**

در جریان ماه جدی سال ۱٤۰۱ هـ ش به تعداد (٥٦) دوسیه قضایای جزائی وارد محاکم آن ولایت شده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه دیگر موجود بود.

از آن جمله (۱۵) دوسیه آن فیصله شده، (۱۲) دوسیه توسط مکتوب مسترد و در مورد (۱۳) دوسیه با صدور قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان ماه جدی سال ۱٤۰۱ هـ ش در این بخش به تعداد (۱۲۲) دوسیه قضایای حقوقی وارد محاکم آن ولایت شده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه دیگر موجود بود.

از آن جمله (۱۹) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه طی مکتوب مسترد و در مورد (۱۲٦) دوسیه با صدور قرارقضائی اجراآت بعمل آمده و متباقی دوسیه ها تحت کار است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (٤٧) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده‌است.

## طی دو هفته در دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ زون سوم شهر کابل ۲۰۷ دوسیه حل و فصل شده‌است

گزارش اجراآت دو هفته‌ی بخش‌های جزائی و حقوقی دواوین مربوطه محکمه ابتدائیه زون سوم شهر کابل از تاریخ ۱٤٤٤/٦/۱٤ هـ ق الی ۱٤٤٤/٦/٢٦ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**۱. دیوان جزاء این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد ۲۹ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه ها موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۳۲قضیه فیصله شده، ٢٤قضیه توسط قرار قضائی و ۲ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد ۱۵ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه ها موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۹ قضیه فیصله شده، ۲ قضیه توسط قرارقضائی و ۸٦ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است که متباقی آن تحت دوران قرارداشته است.

**۳. دیوان مدنی این محکمه:**

در جریان دو هفته به تعداد ۵۶ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه ها موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۹ قضیه فیصله شده، ۲۲ قضیه توسط قرار قضائی و ۲۱ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

## د ننګرهار د استیناف محکمې رئیس د بټي‌کوټ او مهمندرې ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو لیدنه وکړه

د ننګرهار د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ محمدګلاب فاروقي د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۷/۱۱ هـ ق) نېټه د دغه ولایت د بټي کوټ او مهمندرې ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د چارو د ارزونې او نظارت په موخه یادو ولسوالیو ته سفر وکړ.

شیخ محمدګلاب (فاروقي) یادو محاکمو ته د سفر پر مهال د محاکمو له مسؤولینو سره پر لیدنې سربېره د محاکمو قضائي او اداري چارې له نږدې وکتلې.

د مرافعه محکمې رئیس د یادو محاکمو لخوا د صادرو شوو ځو فیصلو تر کتلو وروسته د محاکمو د چارو د لاسمون او چټکتیا په موخه مسؤولینو ته اصلاحي لارښوونې وکړې.

دغه راز محترم شیخ (فاروقي) محاکمو ته د راغلو هیوادوالو ستونزې او نظرونه واورېدل او قضاتو ته یې سپارښتنه وکړه چې د مراجعینو موضوعاتو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

محاکمو قضاتو ته د مهمو لارښوونو سربېره د دوی مشکلات او اړتیاوې واورېدې.

## د هلمند د مرافعه محکمې رئیس د دغه ولایت د یو شمېر ابتدائیه محاکمو له قضاتو سره وکتل

د هلمند د مرافعه محکمې رئیس محترم ابوسعید (غزنوي) د روان هجري قمري کال د جمادي الثاني میاشتې په ۲۸/۲۶ او ۲۹ نېټو د دغه ولایت د برابجي، نوزاد، سنګین، خانشین، باباجي، ناوې، مارجې او نادعلي ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو له قضاتو سره وکتل.

په یادو ناستو کې د محاکمو د مسؤولینو ترمنځ په مهمو قضائي او ادارو مواردو لکه د فیصلو ترتیب او تنظیم او دغه راز د ابتدائیه محاکمو د اړتیا وړ اجناسو په اړه بحث وشو.

په یادو ناستو کې د مرافعه محکمې رئیس د ابتدائیه

د هلمند د مرافعه محکمې رئیس د ټولو ابتدائیه محاکمو قضاتو ته توصیه وکړه چې د مراجعینو مشکلاتو ته دې په ټاکلي وخت رسېدنه کوي، ځکه دا د خلکو حق او الهي مسؤولیت دی چې باید په ښه ډول ترسره شي.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ کاپیسا از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های تګاب و نجراب آن ولایت بازدید به عمل آورد

روز دوشنبه مؤرخ ١٤٤٤/٧/٨هـ ق رئیس مرافعه ولایت کاپیسا مولوی میرآقا مشهور به ذبیح الله «خالد» به همراهی مولوی محمد نبی رئیس دیوان امنیت عامهٔ محکمه مرافعه جهت بررسی دوسیه‌جات ربع سوم و استماع نمودن مشکلات و پیشنهادات عازم محاکم ولسوالی‌های، تګاب و نجراب گردید.

رئیس محکمه مرافعه در این سفر دوسیه‌های محاکم فوق را مورد تدقیق و بررسی قرار داد؛ نواقص و مشکلات های موجود در دوسیه‌جات و وثایق را تذکر داد و درضمن موصوف برای رؤسای محاکم فوق تأکید نمود مکاتیب متحدالمآل هاکه از طرف ریاست محترم عمومی دارالانشاء ستره محکمه مواصلت می‌ورزد با دقت کامل خوانده و تطبیق آن یک امر ضروری است.

در آخیر رئیس محکمهٔ مرافعه کاپیسا مشکلات قضات را استماع و پیشنهادات شان را باخود یاداشت نمود؛ و وعده سپرد عنقریب به مشکلات شما رسیده‌گی و پیشنهادات را به مقام عالی ستره محکمه شریک خواهم کرد.

## دکابل ولایت د مرافعې محکمې نوی رئیس معرفی شو

د چهارشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۷/۱۷ هـ ق) نېټه د کابل ولایت د مرافعه محکمې نوي رئیس محترم مولوي عبدالشکور «رشاد آخندزاده» په رسمي ډول دکابل ولایت اړوند محاکمو مسؤولینو ته ور معرفي شو.

د مرافعه محکمې د نوي رئیس د معرفي کېدو په مناسبت جوړه شوې ناسته کې چې د مرافعه محکمې د مقام په دفتر کې ترسره شوه، د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، دکابل د مرافعه محکمې پخواني رئیس محترم مولوي عبدالغفار (رحماني) صاحب، د کابل زون د نظامي محکمې رئیس محترم مولوي عبدالجلیل (حسیني) صاحب، دکابل د مرافعه محکمې د دېوانونو رئیسانو او یو شمیر نورو مسؤولینو ګډون کړی وو.

غونډه د قرآنکریم د ځو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د ناستې ګډونوالو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) هغه حکم ولوست چې له مخې یې ښاغلی مولوي عبدالشکور «رشاد آخندزاده» د کابل ولایت د مرافعه محکمې نوی رئیس ټاکل شوی دی.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) د کابل د مرافعه محکمې له پخواني او اوسني رئیس صاحبانو وغوښتل چې ورسپارل شوي چارې په ښه توګه ترسره کړي.

وروسته د افغانستان د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب دواړو ښاغلو رئیس صاحبانو ته په خطاب کې وویل، دا چې الحمدلله مسلمانان یو او الله پاک خپل مبارک کتاب کې ذکر کړي چې د الله (جل جلاله) او د الله پاک د رسول او د اولی الامر څخه اطاعت وکړئ؛ نو پر موږ واجب دي چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان څخه اطاعت وکړو او کومې چارې چې موږ ته سپارل کیږي په ښه توګه یې باید ترسره کړو.

ښاغلي شیخ خیرجان (خیرخواه) زیاته کړه، په اسلام کې وظایف په اصل کې یو مسؤولیت دی نه حق، مسؤولیت د مشرانو لخوا سپارل کیږي نو موږ یې نباید وغواړو او کله چې راکړل شو نو باید په ښه توګه یې ترسره کړو.

په پای کې دواړو ښاغلو رئیسانو یو بل ته په چارو کې د همکارۍ ډاډ ورکړ او غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د کونړ د مرافعه محکمې رئیس د خاص کونړ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

د چهار شنبې په ورځ (۱۴۴۴/۷/۱۰ هـ ق) نېټه د کونړ ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عزیزالرحمن او ورسره مل پلاوي د خاص کونړ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

د خاص کونړ ابتدائیه محکمې رئیس محترم عبدالخالق یاد پلاوي ته پر ښه راغلاست سربېره د مرافعه محکمې د دغه پلاوي سفر په اجراآتو کې د شفافیت او د هیوادوالو موضوعاتو ته پر وخت د رسېدنې په برخه کې لوی اقدام وباله او زیاته یې کړه، که د محاکمو د اجراآتو څخه وخت پر وخت لیدنه وشي نو د محاکمو اجراآت به پر وخت او په شفاف ډول پر مخ ولاړ شي.

دغه راز د کونړ د مرافعه محکمې رئیس د یادې محکمې اداري او قضائي کارونه له نیږدې وکتل او د شته ستونزو د حل لپاره یې د مربوطه محکمې مسؤولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

پر دې سربېره د مرافعه محکمې رئیس د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د صادر شویو متحدالمآلونو د تطبیق ځارنه هم وکړه، د یادې ابتدائیه محکمې د تجهیزاتو په تړاو تفصیلي خبرې اترې وشوې او د مرافعه محکمې د رئیس له لوري د شته ستونزو د هواري په برخه کې ډاډ ورکړل شو.

د سفر په پای کې د مرافعه محکمې رئیس حاضرۍ ته په پابندۍ، له مراجعینو سره په ښه چلند، په اجراآتو کې پر شفافیت او د فساد د مخنیوی په هکله جدي سپارښتنې وشوې.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## سترې محکمې ته د عدليې وزارت اړوند د مرکزي حقوقو رياست د انتقال لړۍ پيل شوه

د شنبې په ورځ (د روان هجري قمري کال د رجب المرجب مياشتې ۶مه نېټه) سترې محکمې ته د عدليې وزارت اړوند حقوقو رياست د انتقال په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام د ۴ /۶/ ۱۴۴۴ هـ ق نېټې د (۱۷۶۹) ګڼې حکم د تعميل په منظور د سترې محکمې د اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک «حقاني» صاحب په مشرۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د سترې محکمې په اداري معاونيت کې ترسره شوه د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رئيس، د سترې محکمې د بشري سرچينو سرپرست رئيس، د عدليې وزارت مالي او اداري رئيس، د حقوقو عمومي رئيس او د ماليې وزارت دوو باصلاحيه استازو ګډون درلود. په غونډه کې د اړوندې موضوع په تړاو تفصيلي خبرې وشوې او ګډونوالو خپل نظريات وړاندې کړل.

په ياده غونډه کې پرېکړه وشوه چې تاکل شوې پنځه کسيز پلاوی چې په تشکيل کې يې د سترې محکمې مالي او اداري عمومي رئيس، د سترې محکمې د جنسي آمريت امر، د عدليې وزارت د اجناسو امر، د عدليې وزارت د اجناسو مدير او حقوقي کارپوه شامل دي، نن يکشنبه ( ۷ / ۷ / ۱۴۴۴ هـ ق) نېټه د مرکزي حقوقو رياست د انتقال پروسه پيل کړي. همدارنګه په غونډه کې د ولايتونو د حقوقو رياستونو د انتقال په اړه داسې پرېکړه وشوه چې د ولاياتو د حقوقو رياست د انتقال لپاره به (۳) کسيز پلاوی (چې په هغه کې به د اړوند ولايت د مقام استازي، د مرافعه محکمې استازی، دعدليې وزارت استازی او د حقوقو آمر شامل وي) کار پيلوي.

د ياد رياست په انتقال سره به ټولې هغه ستونزې چې له دې مخکې پېښې وې حل شي.

## رئيس محکمهٔ مرافعه ولايت هرات از اجراآت محکمهٔ ابتدائيه ولسوالی کهسان آن ولايت بازديد کرد

يوم شنبه مؤرخ ۱٤٤٤/۷/٦ هـ ق محترم مولوی عبدالله (قادری) رئيس عمومی محاکم استيناف ولايت هرات با همراهی محترم مفتی عبدالمنان (مهاجر) رئيس ديوان امنيت عامه استيناف و محترم مولوی مير احمد (رحمانی) آمر تحريرات محکمهٔ شهری هرات غرض بررسی امورات قضائی و اداری و رفع ضروريات و نيازمندی‌های محکمهٔ ابتدائيهٔ ولسوالی کهسان به آن ولسوالی سفر نمود.

مولوی عبدالله (قادری) در جريان اين سفر از تماماً امورات اجراآت قضائی و اداری آن محکمه بررسی و بازديد به عمل آورد و موصوف در ضمن برای منسوبين آن محکمه توصيه نمود؛ اينکه با مراجعين برخورد نيک داشته باشيد و اجراات خويش را با شريعت محمدی و اصول امارت اسلامی عيار باشد، استقلاليت قضاء را حفظ کنيد، در روند کاری خود سرعت دهيد ، به مشکلات خلق الله تعالی طبق شريعت رسيده‌گی نمائيد، در اجراآت خويش هدايات متحدالمآل شماره ۳٦ مؤرخ ۱٤٤٤/٥/۹ هـ ق شورای عالی ستره محکمه را مدنظر داشته باشيد؛ بالای وظيفه محوله خويش در اوقات رسمی حاضر باشيد و دروازه محکمه روزمره در اوقات رسمی مسدود نباشد.

متعاقباً رئيس استيناف راجع به پيشنهادات و ضروريات محکمهٔ مذکور عنوانی مرجع مربوطه هدايت لازم داد و در اخير قاضی، مفتی و محررين محکمهٔ مذکور از بازديد و توصيه و رهنمودهای رئيس محکمهٔ استيناف هرات اظهار سپاس و قدردانی نمود.

در اخير محترم مولوی عبدالله (قادری) در رابطه به هماهنگی فی مابين اجراآت محکمه و قومندانی امنيه کهسان همراه قوماندان امنيه ولسوالی کهسان نيز بازديد به عمل آورد.

## د قضائي پلټنې عمومي رياست مسلکي غړو د خوست ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د مقام په هدايت د قضائي تفتيش د عمومي رئيس محترم مفتي محمدابراهيم جان (ابوالحافظ) په اجازه د ياد رياست اړوند يوه پلاوي چې د تفتيش رياست معاون حافظ مولوي عبدالولي (محمود)، او د تفتيش رياست غړو څخه هر يو مولوي سيف الرحمن (ذاکر) او مولوي عبدالوارث (سعيد) يې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د جمادی الثاني مياشتې په ۲۲مه نېټه د خوست ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړلو او ارزونې په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

ياد پلاوي د خپل سفر په پيل کې د خوست د مرافعه محکمې له رئيس سره وکتل؛ ورپسې يې د بنديانو د وضعيت د څېړلو او د هغو د ستونزو د اورېدو په موخه د خوست له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه او د ياد محبس اړوند د ټولو نارينه او ښځينه بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت او شکايتونه يې له ځان سره ياداښت او د اړوند محاکمو له مسؤولينو سره شريک کړل.

دغه راز د خپل کاري کړنلارې له مخې يې د ياد ولايت د ۱۲ ولسواليو د ابتدائيه شرعي محاکمو او د خوست د مرافعه او ښاري محاکمو د رياستونو او اړوند ديوانونو څخه جلا، جلا ليدنه وکړه.

نوموړي پلاوي د تفتيشي بهير په ترځ کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه او د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د چلند او مسلکي اړخونو بشپړ معلومات حاصل شول او د چارو د لاسمون په برخه کې ورته لازمي لارښوونې وشوې.

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست ياد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستيکي نيمګړتياوې مشخص کړل، په لومړي قدم کې يې د ښارې محکمې په ديوانونو کې شته مشکلات د ښارې محکمې له رئيس سره شريک کړل؛ورپسې يې د ستونزو د هوارې، د خنډونو د له منځه وړلو او د نيمګړتياوو د اکمال په اړه د خوست د مرافعه محکمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات يې په جلا، جلا توګه ورسره شريک کړل.

پلاوي همداراز د محاکمو په وړاندې شته ستونزي او دخلکو شکايتونه په دقيق اوهراړخيزه توګه وڅېړل، مؤظف هيئت د ياد ولايت د محاکمو د برحاله قضاتو مفتيانو او محررانو څخه ازموينه واخيستله.

د پلټنې پلاوي د خپل سفر په پای کې د خوست له محترم والی، د استخباراتو له محترم رئيس، د امنيت آمر او د ليوا له قوماندان سره هم وکتل او د محاکمو د فعاليتونو د لاښه پرمختګ او د ځينو مربوطه ستونزو د حل په تړاو يې د هغوی نظرونه واورېدل.

## د پکتيکا ولايت د استيناف محکمې رئيس له څلورو ابتدائيه محاکموڅخه ليدنه وکړه

د پکتيکا ولايت د استيناف محکمې د رئيس په مشرۍ يوه پلاوي له ماتحت محاکمو څخه د ليدنو په دوام داځل په ۱۴۴۴/۷/۶ هـ ق نېټه د ياد ولايت د يوسف خيلو، جانخيلو، يحي خيلو او خيرکوټ ولسواليو له ابتدائيه محاکمو څخه ليدنه او کتنه وکړه.

د مرافعه محکمې عمومي رئيس محترم مفتي امان الله (منقاد) او ورسره مل پلاوي چې د استيناف محکمې د عامه امنيت ديوان رئيس مولوي محمد (مختاري)، د استيناف محکمې د جزاء ديوان مفتي مولوي عبدالمنان (محق)، د استيناف محکمې د وثايقو امر مولوي حامد، د عامه امنيت ديوان محرر مولوي حسن (بهير) يې غړيتوب درلود، له يادو محاکمو څخه ليدنه ترسره کړه او د معمول په څېر يې د يادو محاکمو له رئيسانو، عضو مفتيانو او عضو محررينو سره وليدل.

ياد پلاوي د محاکمو دحاضرۍ کتابونو، د اندراج کتابونو، دصادرې او واردې کتابونو، د وثايقو دفتر له کتلو وروسته يوه، يوه نسخه د فيصلې هم مطالعه کړه.

دغه راز يې د محکمې د اړوندو چارو په تړاو مهم موضوعات، د مشرتابه مقام او د سترې محکمې د راغليو فرمانونو د تطبيق، د دوسيو په خپل وخت دحل کولو، د محکمې له خوا د فتوی، طرزالعمل، فرمان او نورو موضوعاتو اړوند لازم معلومات شريک کړل.

په دې سربېره ځينې مهم مسائل او موارد له پلاوي سره په مذاکراتي ډول ياد شول چې الحمدلله تر ډېره بريده ستونزو ته حل لاره پيدا شوه.

## بالای شش مجرم در ولايت غور حکم جزاء تعزيری تطبيق شد:

يوم سه شنبه تاريخ (۱۴۴۴/۷/۱۶ هـ ق) به اساس حکم محاکم ولايت غور در استيديوم ورزشی اين ولايت بالای سه تن از مجرمين به اساس داشتن جرايم فساد اخلاقی و توليد شراب جزاء تعزيری تطبيق شد.

دوسيه های اين مجرمين در ديوان جزای محکمه شهری، ديوان امنيت عامهٔ محکمهٔ شهری و ديوان امنيت عامه محکمهٔ مرافعه ولايت غور بررسی و نهايی شده است. در نشست که به خاطر طبيق جزای تعزيری به اين مجرمين تدوير يافته بود؛ مسؤولان محاکم و ادارات ديگر ولايتی، علماء و شيوخ کرام، متنفذين قوم و باشنده‌گان ديگر محلی اشتراک کرده بوده‌اند.

نشست با تلاوت چندی از آيات کلام الله مجيد آغاز شد؛ سپس علماء و شيوخ کرام پيرامون موضوعات مختلف سخنرانی کردند.

در اخير به مجرمين فوق الذکر جزای تعزيری تطبيق شد و نشست با دعائيه خير خاتمه يافت.

## په هلمند ولايت کې ۱۶ مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

پنجشنبه مورخ (۱۴۴۴/۷/۱۱ هـ ق) د هلمند ولايت په ګرشک ولسوالۍ کې ۱۶ مجرمينو ته د فسق او فجور، نامشروع اړيکو، غلا او لواطت د جرمونو په وجه تعزيري سزا ورکړل شوه.

يادو مجرمينو ته د تعزيري سزا د تطبيق په مناسبت جوړه شوې غونډه کې د محاکمو او نورو ولايتي ادارو پر مسؤولينو، علماء کرامو او قومي مخورو سربېره عامو خلکو هم ګډون کړی و.

بايد وويل شي چې د دغو مجرمينو دوسيې د ګرشک ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې لخوا څېړل شوې وې او ټولو مجرمينو د محکمې په پرېکړه قناعت درلود.

د ليکوال پلاوي تر ځارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

میزان

publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳